DAILY
اراده
۶۵۳
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش
لسم کال - دویمه دوره، ٦٥٣ مه گڼه، پر له پسې گڼه ۱۷۲۱ د ۱۳۸۸ لـ د لیندۍ ۱۹ مه - د پنجشنبې ورځ، د ۱۴۳۰ هـ ق د ذی الحجه ۲۳ مه د ۲۰۰۹ د ډسمبر ۱۰ مه

PROPERTY OF ACKU

واشنګټن پوسټ:

د اداري فساد له امله عام افغانان تر حکومت طالبان غوره بولي

واشنګټن پوسټ ورځپاڼې لیکلي، چې په لغمان ولایت کې د افغانستان د نورو اکثر ولایتونو په څېر دوه والیان دي، یو یې ولسمشر کرزي ټاکلی، بل یې د طالبانو والي دی.

د ورځپاڼې له لیکنې سره سم د ولسمشر کرزي د غیرمنظم حکومت په مقایسه ډېر افغانان د طالبانو سخت او زیږه حکمونه غوره بولي

د تاند وېپاڼې د رپوټ له مخې، یوه لور ته د امریکا متحد ایالات په افغانستان کې خپل ځواکونه زیاتوي، بل لورته طالبانو له خپل لوري تعیینات پیل کړي دي

د واشنګټن پوسټ په وینا طالبان داسې چلند کوي، لکه دوی چې ۳مخ

تشدید موانع قانونی برای اقدام به حملات هوایی در افغانستان از سوی سازمان ناتو؛

تکرار شعارهای گذشته

در حالی از تشدید موانع قانونی برای اقدام به حملات هوایی در افغانستان از سوی سازمان ناتو سخن گفته می شود که تنها دو روز پیش در نتیجهٔ بمباردمان بیرحمانهٔ قوای ناتو در شمال شهر مهترلام لغمان، به شمول زنان و کودکان ده ها تن از هموطنان بیگناه ما، در خون و آتش غلطیدند. این بمباردمان بی رحمانه که یقنیا بر منازل مسکونی افراد غیرنظامی انجام شده و قربانیان آن نیز افراد ملکی هستند، اما سخنگویان ناتو همانند گذشته، با لجاجت اصرار می ورزد که افراد القاعده و طالبان را هدف قرار داده اند و دولت افغانستان صرف با تقبیح باران کردن این عمل، شانه های خود را از بار مسوولیت خالی نمود.

دیروز هفته نامهٔ آلمانی "اشپیگل " در گزارشی نوشت، پس از صدور فرمان حملهٔ هوایی در ولایت کندز توسط جنرال آلمانی "گئورگ کلاین "در چهار ماه سپتمبر(۱۳ سنبله) به دو تانکر که توسط طالبان ربوده شده بود و کشته شدن جمعی از غیر نظامیان، جنرال "استنلی مک کریستال " قوماندان نیروهای امریکایی و ناتو در افغانستان، قوانین مربوط به حملات هوایی در این کشور را تشدید کرد.

بر اساس این گزارش، مک کریستال این فرمان را در ۱۴ نومبر(۲۳ عقرب)، اندکی پس از انتشار گزارش ناتو دربارهٔ حملات یاد شده صادر کرده بود و هدف از آن جلوگیری از تکرار وقایعی مشابه به حملات صورت گرفته در ماه سپتمبر اعلام شده است.

گفته می شود، مک کریستال در صدور این فرمان، هیچ اشاره یی به گزارش ۵۷۵ صفحه یی ناتو، نکرده است.

گزارش ناتو در اوایل نومبر به وزارت دفاع آلمان تسلیم شده بود و این وزارتخانه آن را تا کنون مخفی نگه داشته بود.

در حملات کندز، ۱۴۲ تن، جان خود را از دست دادند که انتشار این خبر به استعفای جمعی از نظامیان آلمانی ص۳

وسلوالو طالبانو سوېلي کوریا د شوې ژمنې پر ماتولو تورنه کړه

وسلوالو طالبانو سوېلي کوریا د شوې ژمنې پر ماتولو تورنه کړه او د دغه هېواد لخوا یې افغانستان ته د ۵۰۰ نورو سرتېرو د لېږلو پرېکړه وغندله.

د سوېلي کوریا دفاع وزارت دوې ورځې مخکې اعلان وکړ، چې افغانستان ته به ۳۵۰ سرتېري او ۱۵۰ ملکي کسان د بیارغونې او امنیت په برخه کې د مرستې په موخه لېږي.

وسلوالو طالبانو د سوېلي کوریا د دغې پرېکړې غندنه کړې او د دوه کاله مخکې د دغه هېواد لخوا، له طالبانو سره د شوې ژمنې پر ماتولو یې تورنه کړې ده .

د وسلوالو طالبانو مطبوعاتي دفتر لخوا د لیندۍ پر ۱۸مه، په یوه خپره شوې خبرپاڼه کې ویل شوي، چې کوریا ورسره د ۱۳۸۲المریز کال د وږي په میاشت کې، افغانستان ته د سرتېرو د نه لېږلو ژمنه کړې وه.

دغه ژمنه په داسې حال کې شوې وه، چې وسلوالو طالبانو په غزني ولایت کې ۲۱ کوریایي وګړي وتښتول، چې دوه یې ووژل او ۱۹ نور یې خوشې کړل .

طالبانو کوریا ته ګواښ کړی، که چېرې یې افغانستان ته د عسکرو د لېږلو عمل ترسره کړ او کړې ژمنه یې ماته کړه، نو د دغه کار ناوړو پایلو ته دې هم چمتو واوسي.

د پژواك خبري اژانس وایي، د وسلوالو طالبانو په یاده شوې اعلامیه کې راغلي دي، چې د یادو شویو ۱۹ کوریایانو د خوشې کولو په بدل کې کوریا ژمنه کړې وه، چې نه یوازې په ۳مخ

د نشه يي توکو سلګونه قاچاق کوونکي مو نیولي

د افغانستان د کورنیو چارو وزارت د نشه يي توکو ضد معینیت وایي، په تېرو شاوخوا ۱۱ میاشتو کې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو او سرحدي سیمو کې سلګونه تنه د نشه يي توکو د قاچاقو په تور نیولي او قضایي ارګانونه یې ور پېژندلي دي.

له نشه يي توکو سره د مبارزې مرستیال وزیر جنرال داود داود، وویل په نیول شوو کې یو شمېر بهرنیان هم شامل دي.

اخواد افغانستان د نشه يي توکو ضدځانګړې محکمه وایي، د نیول شوو قاچاق کوونکو له ډلې نه څه باندې دوه سره تنه یا زنداني شوي اویا نقدي جریمه شوي دي.

محکمه وایي په محکومو کسانو کې یو شمېر افغان امنیتي چارواکي او حکومتي مامورین هم دي.

د وزارت په وینا په نیول شوو کې یو شمېر داسې قاچاق کوونکې ډلې او بهرني وګړي شامل دي، چې په سیمه او یو شمېر ګاونډیو هېوادونو پاکستان، ایران، هند او تاجکستان کې د نشه يي توکو د قاچاقو پراخ کاروبار درلود.

د روان کال د پیل په اوو میاشتو کې ۲۱۲ تورن کسان ،د جزا د قانون د ۱۲ مادې له مخې په اوږد بنداو نقدي جریمو مجازات او محکوم شوي دي. ۳مخ

د کندهار د انارو د محصولاتو او صادراتو کچه ټیټه شوې ده

د کندهار ولایت د سوداګرۍ د خونو مسوولین او د انارو باغلرونکي وایي، چې د جګړو او بهرنیو ځواکونو هوایي او ځمکنیو عملیاتو له امله، په دې ولایت کې د تېرو کلونو په پرتله، سږ کال د انارو د محصولاتو او صادراتو کچه راټیټه شوې ده. د دې ولایت د سوداګرۍ د خونو مسوول فریدالله حبیب د لیندۍ پر ۱۸مه، وویل چې سږ کال د کندهار د انارو د حاصلاتو ښه او کیفیت ډېر خراب شوی، چې له امله یې بهر ته صادرات هم کم شوي دي. هغه زیاته کړه، چې د دغې ستونزې لاملونه طبیعي آفات، په ولسوالیو کې جګړې او د ایتلافي ځواکونو هوایي او ځمکني عملیات دي، چې له کبله یې د انارو بڼه ډېره خرابه شوې، چې ډېر یې چوولي یا سوځېدلي دي. د نوموړي په وینا ، له همدې امله یې په روان کال کې د انارو د صادراتو لپاره د اروپا بازارونه له لاسه ورکړي او یوازې د ګوتو په شمېر څو اسیایي هېوادونو ته په ډېره کمه اندازه انار صادر شوي دي. حبیب وایي، چې د سوداګرۍ د خونو د ثبت او راجستر پر بنسټ د روان ۱۳۸۸ کال په تېرو اتو میاشتو کې ایران، هندوستان، سینګاپور او پاکستان ته ۲۷۵۸ ټنه انار صادر شوي، چې ټولیز لګښت یې ۱ میلیون او ۱۹۲ زره امریکایي ډالره دی. خو نوموړي دا هم وویل چې

پردې سربېره، پاکستان ته ۱۳زره ټنه نور انار، د لنډې مېوې د سوداګرو له لوري بې له راجستره ۳مخ

کار احداث ۱۸۸ باغ در شبرغان پایان یافت

کار احداث ۱۸۸ باغ از جانب وزارت زراعت آبیاری و مالداری در قرای اطراف شهر شبرغان، روز گذشته، پایان یافت.

انجنیر عبدالرشید رییس ادارهٔ زراعت وآبیاری ولایت جوزجان گفت که کار اعمار این باغ ها در موازی ۲۰۰ جریب زمین، یک سال قبل آغاز شده بود.

به گفتهٔ موصوف، در هر باغ، ۷۰ نهال زردآلو، انار، بادام و تاک انگور به استندرد پذیرفته شدهٔ باغداری، غرس شده است.

به اساس معلومات منبع، هزینهٔ احداث این باغ ها، ۵۰۰ هزار دالر امریکایی بوده که از بودجهٔ بانک انکشاف آسیایی، پرداخته شده است.

به گزارش خبرگزاری پژواک، رییس زراعت و آبیاری ولایت جوزجان همچنان ص۳

مک کرستل:

د اړتیا پر مهال به د نورو سرتېرو غوښتنه هم وکړم

افغان جګړه ډېره سخته ده، راتلونکی یو نیم کال ډېر مهم دی او امریکا به په دې کې خامخا بریالۍ کېږي

د ناټو ځواکونو عمومي قوماندان جنرال کرستل وايي، چې د افغانستان جګړه ډېره سخته ده، خو هوډ یې څرګند کړ، چې دوی به په دې جګړه کې بریالیتوب ترلاسه کوي.

امریکایي جنرال مک کرستل، دغه څرګندونې ورمه ورځ د خپل هېواد د کانګرس د وسلوالو ځواکونو د کمېسیون پر وړاندې وکړې.



د دغه کمېسیون پر وړاندې، په افغانستان کې د امریکا د متحدو ایالاتونو سفیر کارل ایکن بیري هم خبرې وکړې او د افغانستان د وروستي حالت په اړه یې خپل راپور وړاندې کړ.

ایکن بیري د خپلو څرګندونو پر مهال، د افغانستان لپاره د خپل هېواد د ولسمشر بارک اوباما له نوې جنګي ستراتېژۍ څخه ملاتړ اعلان کړ.

د دې جنګي ستراتېژۍ له مخې، اوباما افغانستان ته د ۳۰ زرو نورو سرتېرو لېږلو او له ۲۰۱۱ زېږدي کال څخه، له افغانستان څخه په تدریجي ډول د خپلو سرتېرو د وېستلو اعلان کړی دی.

له دې مخکې تېره میاشت، ایکن بیري سپینې ماڼۍ ته په یوه پټ لېږل ۳مخ

نامهٔ محمد انور جگدلک در پاسخ مضمون

((آنهایی که توانسته اند در شیرپور صاحب زمین شوند))

به ادارهٔ محترم روزنامهٔ ملي اراده!

احترامات فایقهٔ من را بپذیرید:

قبلا به اساس پیشنهاد اینجانب محمد انور یک نمرهٔ زمینی که در پروژهٔ شیرپور برایم توزیع گردیده بود به اساس حکم نمبر ۹۸۶ مورخ ۱۳۸۳/۹/۱۵ مقام محترم ریاست جمهوری اسلامی افغانستان دو باره مسترد نمودم که موضوع قبلا در روزنامهٔ وزین اراده در همان زمان استقبال و به نشر رسیده بود. اکنون در لستی که در شمارهٔ چند روز قبل این روزنامه به نشر رسیده است، اسم اینجانب نیز به مشاهده می رسد. موضوع احتراما نگاشته شد که بنده در پروژهٔ شیرپور زمین ندارم. امیدوارم بعدا موضوع را طبق اصول ژورنالستیک در نظر داشته ممنون سازید.

محمد انور جگدلک
سابق رییس المپیک

د لوی او ښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

هیچ کس نباید مستبدانه دستگیر، توقیف و یا تبعید گردد

روز دهم دسمبر مصادف است با تصویب و اشاعهٔ حقوق بشر که ۶۱ سال قبل از امروز اسمبلهٔ عمومی ملل متحد به تاریخ دهم دسمبر ۱۹۴۸ متن کامل اعلامیهٔ حقوق بشر را به جهانیان اعلام نمود.

با نشر این اعلامیهٔ تاریخی، از اعضای سازمان ملل تقاضا به عمل آمد، تا در اشاعه، ترویج و تطبیق این اعلامیه کوشا بوده، متن کامل آن را در مکاتب و سایر موسسات تعلیمی بدون تمایز در معرض دید همه گان قرار داده و به صورت اساسی مطالعه، توضیح و تشریح گردد.

در مقدمهٔ این اعلامیه تذکار رفته که حقوق تمام اعضای فامیل انسان ها مساوی وغیرقابل انکار بوده و اساس آن را آزادی، عدالت و صلح در جهان تشکیل می دهد.

ولی با تاسف بعض اوقات به منظور حفظ منافع و مصلحت های سیاسی مصوبان و مجریان قانون، ناقضان قانون می گردند.

چنانکه در طول هشت سال گذشته از همان آوانی که جامعهٔ جهانی برای ایجاد صلح و ثبات، عدالت اجتماعی، تامین امنیت، محو و ریشه کن ساختن تروریزم از منطقه، از بین بردن فساد اداری و بیروکراسی در ادارات دولتی و به ویژه ترویج دموکراسی وارد خطهٔ افغانستان شدند، نه تنها این اظهارات شعارگونه جامهٔ عمل نپوشید، بلکه برعکس این شعارهای میان تهی به گونهٔ وارونه به محور ۱۸۰ درجه چرخش نمود. مشکلات بیکاری، اقتصادی، امنیتی و اجتماعی مردم افغانستان که از سه دهه به این سو به آن دست و گریبان هستند، نه تنها مرفوع نگردیده، بلکه بر زخم های التیام ناپذیر شان نمک پاشی هم گردیده است.

کشتارهای ظالمانه، بمباردمان های کورکورانه، اختلاس های عوام فریبانه، خانه ویرانی های بیباکانه، تجاوزهای جنسی ناجوانمردانه، رشوه ستانی های بیشرمانه و سایر برخوردهای غیر اخلاقی و خلاف پرنسیب انسانی که در تناقض و مغایرت با اعلامیهٔ حقوق بشر است، در حق این ملت مضایقه نگردیده است.

در قبال سایر تناقضات از مواد اعلامیهٔ حقوق بشر یکی هم تخطی صریح و آشکارا از مادهٔ نهم این اعلامیه است که در این ماده تصریح گردیده که " هیچ کس نباید مستبدانه دستگیر، توقیف و یا تبعید گردد."

ولی متاسفانه در طول این هشت سال دیده شده که زندان بگرام و سایر زندان ها از افراد بیگناه در حالیکه سرنوشت شان معلوم نیست مملو گردیده و حتا زندان جدیدی دیگری به مصرف ۶۰ میلیون دالر امریکایی به منظور دستگیری و توقیف افراد جدید اعمار گردیده است. محبوسان این زندان ها ازحق دسترسی به وکلای مدافع محروم بوده و بدون سرنوشت در حال سپری نمودن بهترین سال های عمر خود در عقب میله های زندان می باشند.

در حالیکه اعلامیهٔ حقوق بشر و قوانین مدنی به صراحت اعلام می دارد که یک فرد تا زمانی که جرمش با شواهد و مدارک ثابت نشود، محکوم به حبس نمی گردد.

ولی متاسفانه هزاران افغان فعلاً در داخل و خارج از کشور به خصوص در ممالک همجوار به صورت غیر قانونی در نظارت خانه ها و زندان ها بدون سرنوشت به سر می برند.

چنانکه هم اکنون تعدادی بی شماری از افغان ها با وجود داشتن اسناد قانونی مهاجرت قربانی رشوه ستانی وبی توجهی عمال حکومتی و ماموران امنیتی پاکستانی گردیده و به بهانه های مختلف در تهانه ها و توقیفگاه های آن کشور به سر می برند.

ولی هیچ مرجعی نیست که کرامت انسانی ایشان را مراعات نموده و یا از حقوق مدنی شان دفاع نماید.

امید است، دولتمردان افغانستان و مسوولان آیندهٔ دولتی بادرنظر داشت حقوق انسانی و شهروندی اگر امتیازی به رعایای خویش قایل نمی شوند، حد اقل از حقوق از دست رفته و پامال شدهٔ اتباع کشور خویش دفاع نموده و هموطنان بی گناه خویش را از زندان های داخلی و خارجی نجات دهند.

به امید فرارسیدن روزی که مواد مندرجهٔ اعلامیه حقوق بشر در اقصا نقاط کشور رعایت و به صورت عادلانه، مورد تطبیق قرار گیرد.

د کندهارۍ ښځو لپاره (کندهارۍ خزانه) ښه کارځای

ایمل خان

(RFE/RL)

په هېواد کې جگړو ډېرې مېرمنې کونډې کړې او د ډېرو بیا خپل خاوند په کې له لاسه ورکړ. اوس ډېرې مېرمنې د خپل کور د نفقې لپاره هېڅ هم نه لري. دوی اړې دي چې کار وکړي او خپل اولاد ته په خپله نفقه پیدا کړي.

ډېرې مېرمنې بیا د خپلو پلرونو د بې غورۍ له لاسه معیوبو، په نېشو روږدو، او داسې کسانو ته ورکړل شوې دي، چې نشي کولای چې خپل اولاد او خپلې مېرمنې ته نفقه تیاره کړای شي. له دې امله ډېرې مېرمنې له ډول ډول ستونزو سره مخ شوې دي. چې د دغو ستونزو له امله په کندهار ولایت کې رنگینې حمیدي چې په کندهار کې زېږېدلې او د خپل ژوند یو څه برخه یې په امریکا کې تېره کړې ده، یوه کارخونه جوړه کړې، چې په دې خونه کې ۲۵۰ کندهارۍ ښځې په کار بوختې دي، دوی په دې کارخونه کې افغاني جامې گنډي او بیا یې پلوري، چې ډېرې مېرمنې ښې لاسته راوړنې لري.

آزادي راډیو د یوه راپور په بنه کښلي: اته کلنې نازیې زاړه او پینه یې کالي اغوستي، د هغې لپاره لویه هیله دا ده چې د مور کارو بار یې پرمختگ وکړي، د هغې مور له لسگونو ښځو سره یو ځای گلدوزي کوي. هغه پر سرمېزي، سربکسیو، کالیو او نورو توکرانو ډول ډول گلونه گنډي چې د گلدوزۍ دې مرکز ته د کندهارۍ خزانې نوم ورکړل شوی دی

په دې کارځای کې ښځې په دې افتخار کوي چې د کندهار په کچه یې د ډیزاین او سوداگرۍ داسې مرکز جوړ کړی

اسوشیټېډ پرېس لیکي، د طالبانو په وخت کې ښځو او نجونو نه شوای کولای ښوونځیو ته لاړې شي او کارونه وکړي، خو دغه کارځای د سوداگرۍ لپاره داسې یو چانس دی. چې دوی په کې پیسې لاسته راوړي او خپلو کورنیو ته نفقه برابروي، البته د افغانستان په داسې یوه محافظه کاره سیمه کې چې، ښايي د ښځو دغه کار له خطره تش نه وي

رنگینه حمیدي چې د دې کارځای مسوولیت لري وایي. له امریکا څخه افغانستان ته ستنه شوې، هغه په کندهار کې زېږېدلې، خو د شوروي تر یرغل درې کاله مخکې امریکا ته تللې او هلته لویه شوې، په دې وروستیو کې کندهار ته ستنه شوې او د ښځو لپاره یې د لاسي کارونو داسې یو کارځای او سوداگریز مرکز پرانیست، چې دوی یې په مرسته ځانونو ته نفقه برابروي

رنگینې حمیدي له ازادۍ راډیو سره په خبرو کې ویلي، چې تولیدات یې د افغانستان تر څنگ په نورو هېوادونو کې هم زیات مینه وال لري. رنگینه وایي په راتلونکي کې به دغه سوداگري او کار و بار ته وده ورکوي

کله چې دوه درې کاله مخکې امنیتي وضعه خرابه شوه، رنگینې پرېکړه وکړه چې د یو څو زرو ډالرو په بودجې سره د کندهارۍ خزانې په نوم دغه کارځای پرانېزي

رنگینه وایي دوه نیم سوه ښځې ورسره کار کوي، چې ۲۳۰ یې په کورونو کې خامکدوزي کوي او شل ښځې په دفتر کې ورسره د ډیزاینرانو په توگه کار کوي. د هغې په وینا هره ښځه چې په کور کې کارونه کوي د میاشتې یوزر او شپږسوه افغانۍ، خو هغه ښځې چې هره ورځ دفتر ته ورځي، د میاشتې پنځه زره افغانۍ گټي.

په دغو ښځو کې یوه چې پر سره فرش ناسته وه، د نازیې مور وه، څلورډېرش کلنه پروینه، هغه د اوو اولادونو مور ده، هغه پر یوه زنانه کمیس د کوچنیو هندارو په گنډلو بوخته وه، داسې ښکارې لکه د ناوې کمیس چې وي

پروینې له داسې سړي سره واده کړی، چې په نشو اخته دی. توله ورځ په کور کې ناست وي

د طالبانو په حکومت کې پروینې کار نه شوای کولای، هغې وویل: زه شرمېږم چې نور خپلوان راته ډوډۍ او کالي راوړي. مور خو څه سوالگر نه یو. زه به پخوا په کور کې وم. خو اوس مې خپلې کورنۍ ته وویل، چې خپلوان دې خپل خیرات په کوڅه کې غریبو او سوالگرو ته ورکړي

کله چې پروینې دا خبرې کولې، د هغې لور نازیې د هغې په وړاندې لاسونه وپړکول او یې ویل: زه نه غواړم نورو ته محتاجه و اوسم، زه به پیسې گټم.

'که چېرې د ښځو او همدارنگه د ماشومانو لپاره دا ډول کارځایونه جوړ شي، بېوزله او بې سرپرسته مېرمنې به وکولای شي چې خپل اولاد ته نفقه پیدا کړي

۳مخ

برنامهٔ آشتی ملی با مخالفان مسلح دولت

ذکی آروین

حامد کرزی رییس جمهور کشور یکبار دیگر از رهبر طالبان ملا محمدعمر و سایر مخالفان مسلح دولت خواسته، تا سلاح های خویش را به زمین گذاشته و به پروسهٔ آشتی ملی و تحقق صلح در کشور بپیوندند. این خواست، خواست تمامی مردم افغانستان است که سالهاست در آتش جنگ می سوزند.

پس از براندازی گروه طالبان در کشور، تعداد زیادی از رهبری گروه طالبان سازگاری خودشان را به ایجاد و نظام دموکراتیک در کشور نشان دادند و به دولت پیوستند و موقف های عالی را هم در حکومت و هم در پارلمان افغانستان کسب نمودند. در این میان ملا عبدالسلام راکتی یکی از قوماندانان سابق گروه طالبان خودش را جهت کسب احراز مقام ریاست جمهوری در انتخابات سال جاری، نامزد نمود.

همان طوری که در زمان حاکمیت طالبان، سازمان استخباراتی پاکستان آی. اس. آی فعالیت می نمود و اهداف شان تخریب و عقب گذاشتن مردم عامهٔ مردم افغانستان بود، پس از سقوط طالبان نیز، سازمان استخبارات نظامی پاکستان (آی. اس. آی) آرام ننشسته و کوشش نهایی خود را کردند و می کنند، تا آنعده از رهبران طالبان را که تمایل به پروسهٔ ملت سازی و دولت سازی در کشور شان علاقه داشتند، باز دارند که تعدادی را هم به خاطر عدم توجه به اشکال و گونه های مختلف، به قتل رساندند.

مردم افغانستان می دانند که طالبان فرزندان این خاک اند و شمار زیادی از افراد این گروه بی خبر از جریانات سیاسی منطقه، قربانی اهداف شوم کشورهای همسایه به خصوص پاکستان شده اند. پاکستان جهت تامین منافع اقتصادی و سیاسی خود، دست به تمویل و شورش گروه ها در سرحدات هند و افغانستان می زند و حیات وجودی خود را در منطقه و جهان وابستهٔ دهشت و وحشت می بیند که امروز این آتش بر افروخته شده دامن خودش را نیز گرفته و هر روز، صدها پاکستانی به خاک خون کشانده می شود.

طالبان (فرزندان افغان) بدانید که جنگ، تفنگ کشیدن در برابر هموطنان و انتحار، جزء از اهداف و برنامه های شوم و خصمانهٔ دشمنان مردم افغانستان است که چشم طمع و دست غارت گیری را از سر دور نساخته و امروزه نیز با تبلیغات زهرآگین و شجاع خواندن تو، هم می خواهد سرزمین و خانه ات را ویران نماید. بیا دست دوستی و صلح را با برادران افغانت دراز کن و از این طریق نیروهای خارجی را به خانه های شان روان کن. اگر اهداف تان خروج نیروهای خارجی از کشور است.

کار احداث ۱۸۸ باغ در شبرغان...

یادآور شد که به اساس پروگرام آموزشی که جزء پلان وزارت زراعت بوده است؛ برای یکهزار باغدار شهر شبرغان که در ترکیب آن، ۳۷۵ تن از زنان نیز شامل می باشد؛ امور باغداری، خیشاوه، غرس نهال و دادن کودکیمیاوی به نهال ها آموزش داده شده است.

گفته می شود که قراراست، در سال آیندهٔ میلادی۲۰۱۰ موازی ۵۰۰ جریب زمین در اطراف شهر شبرغان، باغ های انار، بادام، زردالو و تاک های انگوراحداث شود و دراین رابطه، کار مقدماتی بالای ۳۳۷ باغ نهایی شده است.

حملات هوایی امریکا بر مناطق ...

مربوط نمی شود. در جنگ حزب الله واسراییل نیز، هر دو طرف، از طیاره های بدون سرنشین علیه یکدیگر استفاده کردند. این تغییراتی است که در جنگ حال حاضر، روی داده است.

پاکستان در بین دو سنگ آسیاب:

در همین حال، جنبش طالبان پاکستان، به ادامهٔ حملات علیه اردو و شبکهٔ استخباراتی این کشور تهدید کرد.

به گزارش شبکهٔ تلویزیونی الجزیره، سخنگوی طالبان پاکستان تهدید کرد، تا زمانی که عملیات نظامی در مناطق قبایلی و وزیرستان متوقف نشود، این جنبش به حملات علیه اردو و دستگاه استخباراتی پاکستان ادامه خواهد داد. این در حالی است که طی دو روز گذشته براثر انفجار بم در شهر ملتان واقع در جنوب شرقی پاکستان، ۱۲ تن کشته و دستکم ۳۰ تن دیگر زخمی شدند. این انفجار نزدیک دفترهای دستگاه امنیت پاکستان رخ داد و جنبش طالبان پاکستان مسوولیت آن را به عهده گرفت. همچنان قوماندان ارشد طالبان در پاکستان گفته است، نیروهای خود را برای حملات متقابل آماده کرده است.

آروا دیمن خبرنگار سی ان ان در اسلام آباد پاکستان گزارش داد، حکیم الله مسعود رهبر طالبان پاکستان در گفتگویی تیلفونی به سی ان ان گفت، افراد وی منتظر فرارسیدن فصل زمستان برای ورود به مناطق قبایلی پاکستان هستند. ملا مسعود تاکید کرد، اعتماد به نفس در میان مبارزان وی به شدت تقویت شده است. ما انرژی خود را ذخیره کرده ایم و شرایط روانی ما نیز در حداکثر قرار دارد. وی قول داد، زمانی که طالبان با اردوی پاکستان مواجه شود، این بار نوبت طالبان است.

از سوی دیگر، امریکا نیز پاکستان را به افزایش حملات با طیاره های بدون سرنشین در مناطق مرزی این کشور و افغانستان تهدید کرد.

به گزارش شبکهٔ تلویزیونی سی ان ان، امریکا به پاکستان و دولت این کشور فشار می آورد، تا اقدامات بیشتری علیه طالبان در منطقهٔ وزیرستان جنوبی انجام دهد. امریکا در حال حاضر، با استفاده از طیاره های بدون سرنشین مواضع طالبان و القاعده را در مناطق سرحدی خاک پاکستان مورد هدف قرار می دهد.

اخیرا روزنامهٔ امریکایی نیویارک تایمز نوشت، مقام های امریکایی به دولت پاکستان گفته اند، امریکا آمادهٔ اعمال فشار و استفاده از زور به صورت قابل توجهی در مناطق سرحدی پاکستان است، اگر طالبان همچنان به حملات خود از داخل پاکستان علیه خاک افغانستان ادامه دهند.

وسلوالو طالبانو سوېلي کوريا د شوې ...

افغانستان کې به خپل شته سرتېري وباسي، بلکې په راتلونکې کې به هم د نورو پوځيانود رالېږلو هڅه نه کوي.

سرچينې ويلي، چې د سوېلي کوريا حکومت دغه کار د افغانانو پر ملي خپلواکۍ تېری دی او دا کار د امريکا د خوشحالولو په موخه ترسره کوي.

په خبرپاڼه کې زياته شوې: «د کوريا لخوا دا ډول غير مسوولانه اقدام او ژمنه ماتول به له يوې خوا، د نوموړي هېواد اعتبار او حيثيت ته ستر گوزار وي او له بلې خوا به يې د تاريخ په اوږدو کې په لمن يو تور داغ هم وي.»

په کابل کې د کوريا سفارت مطبوعاتي دفتر وويل، چې تاکل شوې ده چې ياد شوي سرتېري په نژدې راتلونکي کې کابل ته راورسېږي.

سرچينې د کوريا د دغې پرېکړې په اړه د وسلوالو طالبانو د غبرگون په اړه دمگړۍ له څه ويلو ډډه وکړه او ويې ويل، چې مسوول تن اوسمهال په افغانستان کې نشته.

د کوريا دفاع وزارت ويلي، چې ياد شوي ۵۰۰ نظامي او ملکي کسان به د راتلونکي زېږدي کال له جولای مياشتې څخه په پروان ولايت کې ځای پرځای شي.

د سرچينې د معلوماتو له مخې، په دې ۵۰۰ کسانو کې ۱۰۰ ملکي وگړي، ۴۰ پوليس او شاوخوا ۳۵۰ سرتېري دي، چې په پروان کې به د بيارغونې کارونه ترسره کوي.

د کوريا دفاع وزارت دا هم ويلي، چې سرتېري به يې په هېڅ جگړه کې برخه نه اخلي، بلکې د بيارغونې پر مهال د خپلو ملکي کارکوونکو ساتنه به کوي.

د نشه يي توکو سلگونه قاچاق ...

مرستيال وزير داود داود دا هم وويل، د نيول شوو کسانو ترڅنگ دوی په سلگونو ټنه نشه يي توکي هم لاس ته راوړي دي:

" د ۲۰۰۹ کال له پيله تر دې دمه، د نشه يي توکو د قاچاقو په تور په توليز ډول شپږسوه او پنځه پنځوس کسان نيول شوي او څارنوالۍ ته پېژندل شوي دي.

د هېروينو د توليدو ۵۲ لابراتوارونه، يوسل او يو ټنه ترياک او دغه راز دوه ټنه هېروين له منځه وړل شوي دي."

ښاغلي داود وويل د دغو کسانو او توکو د نيولو په يو لړ عملياتو کې ورسره بهرنيو ځواکونو هم مرسته کړې ده.

اخوا په افغانستان له نشه يي توکو سره د مبارزې خانگړې محکمه بيا په تېرو اوو مياشتو کې د يادوو شوو توکو په قاچاقو کې د نيول شوو لسگونو کسانو د محکمې خبره کوي.

د بي بي سي د رپوټ له مخې، نړيواله ټولنه او افغان حکومت د نشه يي توکو د توليد او قاچاقو په اړه له دې اړخه هم اندېښنه لري، چې گواکې د افغان حکومت وسلوال مخالفين په کال کې مېليونونه ډالرله دغې لارې لاس ته راوړي.

افغانستان چې د نشه يي توکو د توليد له اړخه په نړۍ کې لومړی هېواد بلل کېږي، وايي چې د دغو توکو د توليد او قاچاقو د مخنيوي په برخه کې په دې ورستيو کې پام وړ لاس ته راوړنې هم لري.

خو ډېری کارپوهان په دې باور دي چې د نشه يي توکو په قاچاقو کې يو شمېر لوړ پوړي چارواکي ښکېل دي. چې نه خو يې د نيولو لپاره جدي گام اخيستل شوی، او نه د دوی په باور حکومت د هغوی د نومونو افشا کول غواړي.

د اداري فساد له امله عام افغانان ...

بيا واک ته د رسېدو لپاره متې رانغښتي وي او په خپله طالبان هم داسې انگېري، چې بيا به قدرت ته رسېږي.

ورځپاڼه د لغمان د دوو واليانو په اړه ليکي، چې د ولسمشر کرزي والي تر ډېره تشريفاتي کارونه کوي او د ملا محمد عمر والي، چې پټ گرځي له خلکو سره په ارتباط کې دی او اغېزمن کارونه کوي.

ورځپاڼه بيا د ولسمشر کرزي د نژدې ملاتړي، د ولسي جرگې د غړي خالد پښتون خبره رااخيستې ده چې وايي، د طالبانو ټاکل شوي واليان په ډېرو سيمو کې غير مستقيم واکمنان دي.

د واشنگټن پوسټ په وينا، اته کاله مخکې د طالبانو له افعالو او اعمالو افغانان ستړي شوي وو، دوی نجونې له تعليمه منع کړې وې او په وړه غلا يې هم د خلکو لاسونه پرې کول اوس هم داسې څه دليل نه ليدل کېږي، چې طالبانو دې تغيير کړی وي، خو د ورځپاڼې په باور د افغان حکومت چارواکي، حتا د ښاغلي کرزي نژدې ملاتړي په دې نظر دي، چې له کندوزه نيولې تر کندهاره د حامد کرزي د حکومت د متحدانو واک کمزوری شوی دی او عوام د طالبانو خلکو ته مراجعه کوي. د خالد پښتون په وينا طالبان اوس د دې بحران يوه برخه دي.

خالد پښتون زياتوي، په وروستيو کې کندهار ته د سفر پر مهال ډېرو خلکو ده ته وويل، چې نور د دولت پر قضايي ادارو اعتماد نشي کولای او طالبانو ته مخه کوي، ځکه چې هغوی هغه قضيه چې حکومتي اداري يو کال يا هم دوه کاله پرې تېروي، په يوه ساعت کې يوې خواته کوي.

د ورځپاڼې په وينا يو شمېر افغانان له دې پرته بله لاره هم نه لري، چې طالبانو ته مخه کړي. طالبان له بزگرانو عشر اخلي، د دوی ټاکل شوي ولسوالان بيا ځوانان د جگړې لپاره استخداموي، که څوک د دوی غوښتنه ونه مني، نو د مرگ گواښ ورته کوي.

د واشنگټن پوسټ ورځپاڼې په وينا طالبان زندان نه لري، قاتلان، جنسي تېري کوونکي او د حکومت ملاتړي علني محکمه کوي او پر مرگ يې محکوموي.

له کندوزه د ولسي جرگې غړې، فاطمې عزيز ورځپاڼې ته وويل، سره له دې چې خلکو طالبان نه خوښېدل، مجبوره دي چې د دوی ملاتړ وکړي.

د واشنگټن پوسټ ورځپاڼې په وينا هغه کسان چې په حکومت کې پاک دي او له طالبانو وېرېږي. هغوی هم وايي، چې د افغان حکومت اداري فساد او نورې ستونزې به يې دې ته اړ کړي، چې له طالبانو سره يولاس شي

واشنگټن پوسټ وراندې ليکي، د طالبانو او د حکومت د ټاکل شوو غړو تر منځ هم توپير کول گران دي. ورځپاڼه بيا د لغمان مثال ورکوي، چې د دغه ولايت والي او نور چارواکي د مخکو د وېش له لارې او د قراردادونو له لارې په لسگونو زره ډالر رشوت اخلي. حتا واړه دوکانداران هم د دوی له فساده په امان نه دي، بيا دغه دوکانداران خپله نيمه گټه دوی ته ورکړي.

د کندهار د انارو د محصولاتو ...

هم وړل شوي، چې ارزښت يې نژدې ۵ لکه، ۸۵ زره ډالرو ته رسېږي. د سوداگرۍ د خونې مسوول، بهر ته د انارو د صادراتو دغه کچه د تېر په پرتله څو برابره ټيټه بولي او وايي، چې مخکې به هر کال د اروپايي هېوادونو ترڅنگ يوازې هندوستان ته ۵ زره ټنه انار صادرېدل. فريدالله حبيب زياتوي، چې سږ کال د انارو ښه د اروپايي سوداگرو له غوښتنې سره سمه نه ده او نورو هېوادونو ته هم له صادرو شويو انارو څخه يوازې د ژېلي او طبي درملو په جوړولو کې گټه اخيستل کېږي. نوموړی دغه راز وايي، چې د کندهار د انارو باغ لرونکي د ښو حاصلاتو د ترلاسه کولو لپاره ډېر کم امکانات لري. په داسې حال کې چې په دې برخه کې ورسره دولت هم هېڅ مرسته نه کوي. د هغه په خبره، گڼ باغ لرونکي په انارو کې د طبيعي افاتو او ناروغيو په ښه يا خو نه پوهېږي او يا يې هم د درملنې توان نه لري. نوموړی وايي، د دې ترڅنگ ډېر مهال د انارو د حاصلاتو پر مهال په ولسواليو کې جگړې او بمبارۍ، د انارو کيفيت ته سخت زيان اړوي، چې له همدې امله ښه بازار ورنه نشي موندل کېدای. د کندهار د انارو باغ لرونکي هم سږ کال له خپلو حاصلاتو خوښ نه دي او وايي، چې د يو شمېر کرنيزو ناروغيو، نا امنيو او دې ته ورته نورو ستونزو له کبله، د هغوی باغونو ته زيانونه اوښتي دي. د ارغنداب ولسوالۍ د تابين د سيمې يو تن باغ لرونکي حاجي محمد رفيق وايي، چې د دوی باغونو ته نژدې سيمو کې د بهرنيو ځواکونو د عملياتو او بمبار له امله يې هم باغونه زيانمن شوي او هم يې د انارو کيفيت خراب شوی دی. هغه وويل، چې څه موده مخکې د دوی باغ ته نژدې بمبار وشو، چې له امله يې يو شمېر د انارو ونې ماتې شوې او په نورو ونو کې انار تور واوښتل. د حاجي نظر جان په نوم د ارغنداب ولسوالۍ د انارو يو باغ لرونکي وايي، چې له يوې خوا دولت د نېرو څو کلونو را په دې خوا له باغ لرونکو او کروندگرو سره هېڅ مرسته نه ده کړې او له بله پلوه په بازار کې کرنيز درمل هم ډېر بې کيفيته دي او د ناروغيو پر وړاندې اغېز نه لري. نوموړي له دولت څخه وغوښتل، چې په لومړي گام کې دې د امنيت د راوستلو لپاره کار وکړي او وروسته دې له باغ لرونکو سره د يوې هر اړخيزې تگلارې او ميکانيزم له مخې مرستې وکړي، څو هم يې د کرنيزو محصولاتو او هم صادرات پر پښو ودرول شي. د پژواک د رپوټ له مخې، د کندهار د سوداگرۍ د خونو چارواکي وايي، چې په تېر ۱۳۸۱ کال کې له کندهار څخه د نژدې دوه مېليونه امريکايي ډالرو په ارزښت ۳۲۳۳.۳۲ ټنه انار بهرنيو هېوادونو ته صادر شوي وو، چې د نورو کلونو په پرتله يې کچه دوه برابره زياته وه. دغه انار تر راجستر وروسته هندوستان، ايران، دوبۍ، اذربايجان، سينگاپور او روسيې ته صادر شوي وو، خو په همدې کال کې پاکستان ته له راجستر څخه پرته، د صادرو شويو انارو کچه له يادې شوې هغې هم ډېره وه، چې کچه يې نژدې ۱۵۲۰۰ ټنو ته رسېدله.

د اړتيا پر مهال به د نورو سرتېرو غوښتنه ...

شوي ليک کې افغانستان ته د نورو سرتېرو د نه لېږلو غوښتنه کړې وه.

د پژواک د خبر له مخې، په افغانستان کې د ناټو ځواکونو عمومي قوماندان د کانگريس د ياد شوي کمېسيون پر وړاندې د خبرو پر مهال وويل، چې افغانستان ته نور سرتېري لېږل په دې مانا دي، چې هلته برياليتوب ممکن دی.

خو هغه زياته کړه: «افغان جگړه ډېره سخته ده، راتلونکی يو نيم کال ډېر مهم دی او امريکا به په دې کې خامخا بريالی کېږي.»

د نوموړي په وينا، افغانستان ته د ۳۰ زرو نورو سرتېرو له لېږلو سره به په دغه هېواد کې د وسلوالو طالبانو زور مات او له ولس سره د دوی د اړيکو په شلولو کې هم بريالي شي.

جنرال ستېنلي مک کرسټل وويل چې د افغانستان او سنيو سختو حالاتو سره سره، فکر نه کوي چې دغه هېواد ته له ۳۰ زرو سرتېرو پرته د نورو سرتېرو لېږلو ته اړتيا رامنځته شي.

خو هغه وويل: «که چېرې اړتيا پيدا شوه، نو پرته له کوم تردد څخه به د نورو سرتېرو لېږلو غوښتنه هم وکړم.»

نوموړي د کانگرس د غړو د پوښتنو په ځواب کې وويل، چې د پاک افغان په سرحدي سيمو کې د فعاليت کوونکې حقاني ډلې په له منځه وړلو کې پاکستان مهم رول لوبولای شي.

د ناټو عمومي قوماندان وويل، چې د حقاني ډله او وسلوال يې له القاعده سره نژدې اړيکي لري او دوی له يوه بل سره مرستې کوي.

نوموړي د اسامه بن لادن په اړه د يوې پوښتنې په ځواب کې وويل، چې د هغه له نيولو او يا وژلو پرته د القاعده ډله نشي ختمېدای.

جنرال کرسټل د اسامه په اړه دغه څرگندونې په داسې حال کې کړې، چې د امريکا د دفاع وزير رابرټ گېټس څو ورځې مخکې، ويلي و، چې دوی له څو کلونو راپدېخوا د اسامه بن لادن په اړه هېڅ راپور نه لري

د کندهارۍ ښځو لپاره (کندهارۍ خزانه) ...

او د هر چا احتياج څخه به خلاصې وي. دولت بايد د داسې کارځايونو لپاره د موکې په برابرولو کې مرسته وکړي. څو زموږ د هېواد بېکاره ښځې او ماشومان نور د نورو خيرات ته تمه ونه لري او په خپله د خپل ځان لپاره کار وکړي.

تکرار شعارهای ...

از حمله "فرانتس یوزف یونگ " وزیر دفاع پیشین آلمان که در دولت جدید وزیر کار بود، منجر شد.

اما اینکه این فرمان چه دردی را دوا خواهد، این پرسشی است که بازهم واقعهٔ روزگذشته لغمان به روشنی پاسخ آن را به نمایش گذاشت. نیروهای ایتلاف و ناتو در افغانستان بارها، وعده سپرده اند، که غیرنظامیان را هدف قرار نمی دهند، اما لحظه یی از این وعده ها سپری نشده می باشد، که باز در محلی شماری از افراد ملکی و بی گناه در آتش و دود باروت بم های هواپیماهای نظامی امریکا زنده گی خود را گم می کنند.

فاکس نیوز: سرکوب شورشیان در افغانستان دشوار و پرهزینه خواهد بود



در حالی امریکا از نتیجه بخش بودن راهبرد جدیدش در افغانستان سخن می گوید که کارشناسان این کار را بسیار دشوار و دست نیافتنی توصیف می کنند.

به گزارش شبکهٔ تلویزیونی فاکس نیوز، استیو سنتانی خبرنگار شبکه گفت: "مقام های نظامی امریکا این وعده را مطرح کرده اند که با فرستادن سی هزار نیروی نظامی امریکا به افغانستان تا سال دیگر تاحدود زیادی از حملات طالبان کاسته خواهد شد. به گفته ژنرال استنلی مک کریستال، فرمانده نیروهای نظامی امریکا در افغانستان، تا سال اینده موفقیت محسوسی در افغانستان محقق خواهد شد و افغانها درک خواهند کرد که دیگر اجازه داده نخواهد شد شبه نظامیان در کشورسان قدرت بگیرند. این درحالی است که براوردها حاکی از ان است که این کار بسیار دشوار و پرهزینه خواهد بود. مشکل اساسی امریکا دراین میان، وجود منابع لازم برای انجام دادن این کار است. ژنرال مک کریستال خواستار اعزام چهل هزار نیروی نظامی امریکا به افغانستان شده بود اما در نهایت با اعزام سی هزار نیرو به افغانستان موافقت شد ".

استیو سنتانی افزود:" مک کریستال تاکید دارد وی به باراک اوباما درباره زمان خروج نیروهای نظامی امریکایی از افغانستان هیچ توصیه ای نکرده است. در این میان کارل آیکنبری، سفیر امریکا در افغانستان، با اعزام نیروی بیشتر نظامی به افغانستان مخالف بوده است. البته با اعلام راهبرد جدید امریکا در افغانستان، آیکنبری نیز در این خصوص سکوت اختیار کرده است".

ACKU

د اوباما په ستراتيژۍ کې،

«اتلس مياشتې وروسته؟»

رپوټ: احمدفهيم سپين غر، موسکا





د اوباما په ستراتيژۍ کې زيات تمرکز په نظامي اړخ دی، د افغانستان د نورو موجوده معضلاتو حل ته پکې کومه ځانګړې اشاره نه ده شوې، په ستراتيژۍ کې يوه جالبه خبره داده چې اتلس مياشتې وروسته به له افغانستانه د پوځيانو د ايستلو لړۍ په تدريجي توګه پيلوي. دغه خبرې د افغانستان په دننه او بهر، بيل بيل غبرګونونه درلودل، متقاعد مشاور جيمز جونز دا خبره رد کړه، دغه شان هالبروک د امريکا ځانګړي استازي هم جيمزجونز ته ورته څرګندونې درلودې، ځينو دغه خبرې ته ډول ډول پيوندونه وروسته ورولګول، چې دا په دې مانا چې اتلس مياشتې وروسته به ورو ورو د ځينو ولسواليو امنيت افغان ځواکونو ته سپارل کيږي.

دا چې د افغان پوځ لپاره په تيرو اتو کلونو کې څه وشول، او ايا په اتلسو مياشتو کې به پوځ ددې جوګه شي چې د هلمند ولايت د موسی کلا په شان ولسواليو امنيت ته ځان ټينګ کړي؟ او ايا طالبان چې اوس يې حالت ټول وينو چې څومره غښتلي دي نو اتلس مياشتې وروسته به تر دې لا نور پسې غښتلي او متور نه شي؟ پاس مهمې پوښتنې دي، د اتلسو مياشتو خبره د اوباما په ستراتيژۍ کې ګونګه ده، معلومه نه ده اتلس مياشتې وروسته به څه پيښ شي. له دې سره جوخت، نظرپوښتنې ښيي چې ددغه ستراتيژۍ له اعلانيدو سره سم، د اوباما محبوبيت هم په امريکايي ولس کې سقوط کړی او ډيری د ګوند ډيموکراټ ملګري يې په دې ستراتيژۍ ورسره يوه خوله نه دي،

پاس پوښتنو ته ځوابونه لاندې د کارپوهانو په نظرونو کې ولولئ:

د کابل پوهنتون د سياسي علومو د پوهنځي استاد نصرالله ستانکزی په ستراتيژۍ کې د اتلسو مياشتو خبرې ته داسې توجيه ورکوي:

«ګورئ دا خبره ډيره واضح ده چې اوباما وويل د افغانستان وضعيت ته په کتو سره به اتلس مياشتې وروسته سيمه په سيمه امنيت افغان ځواکونو ته سپاري او د ځواکونو تدريجي وتل به پيلوي.»

د طالبانو د امارت د بهرنيو چارو وزير مولوي وکيل احمد متوکل په ستراتيژۍ کې، له اتلسو مياشتو وروسته د پوځيانو د وتلو لړۍ پيلولو ته په اشارې وايي: زما په اند، ددې علت يو غلط اطلاعات دي چې لکه څرنګه چې افغانستان دی، هلته په امريکا کې دغه شان نه معرفي کيږي، دوهم، په خپله امريکايانو ته مشورې يا په خپله د امريکايانو مشورې سمې نه دي. په ځای ددې چې مشکل په ريښه کې وچ کړي، لا يې پسې پړسوي.

ځوانکی ژورناليست اشرف وحدت په ستراتيژۍ کې د اتلسو مياشتو خبره د امريکايي ولس د رضايت لپاره هسې يوه بهانه بولي. وحدت زياتوي: «دغه جګړه د القاعده د ماتولو تر شعار لاندې په لاره اچول شوې وه او امريکايان سخت ترې ستړي شوي، سره له دې چې دغه جګړه د امريکايي ولس د مالياتو په زور په مخ وړل کيده.»

وحدت زياتوي، زما پر اند، دغه وتل د بشپړ وتلو په مانا نه دي، او نه دوی افغانستان دومره په اسانه پريږدي، خو د ځينو ځواکونو ايستل به اوباما ته ددې ښه چانس په لاس ورکړي چې ددوهم ځل لپاره بيا ځان واك ته ورسوي، او خلکو ته به داسې وښيي چې دادي دې پوځونه وباسي او د جګړې لمن ورټولوي.»

ستانکزي ددې پوښتنې په ځواب کې چې ايا که عملا اتلس مياشتې وروسته تدريجي وتل پيل شي، نو طالبان به لاپسې غښتلي نه شي، وويل، دا به تر وخت وړاندې وي، وخت ته به ګورو چې په سيمه افغانستان او پاکستان کې څه پيښيږي؟ خو اوباما ويلي چې وضعيت ته په کتو سره به دا کار کوي.

دا چې ولې له دومره مخالفتونو سره سره، اوباما د عسکرو د ليږد پريکړه وکړه، ايا تلفات يې زيات شوي که بل څه، متوکل پاس پوښتنې ته داسې ځواب وايي: «ښايي د تلفاتو مسله هم وي، طبعيي خبره ده چې څوک جنازې او تابوتونه نه استقبالوي. خو ددې ترڅنګه، د ښه نوم خبره هم مطرح ده. غټه خبره د اقتصاد مسله ده.»

خو استاد ستانکزی بيا په دې اړه داسې نظر لري: «د اوباما په خبرو کې دا منطق ما اوريدلی چې په افغانستان کې ماته خوړل د امريکا بايلل دي او د امريکا د متحدينو بايلل دي. او دا خبره يې ډيره واضح وکړه.»

متوکل وايي، د اوباما په ټوله ستراتيژۍ کې همدغه ټکی جالب دی چې اتلس مياشتې وروسته به وزي خو وروسته يې دغه خبره، په ډيرو بحثونو مخدوشه کړه، چې دا وتل يو عارض وتل نه دي بلکې دا به يې پيل وي. وروسته يې دا هم پسې وويل چې په دې هم مقيد نه يو، بلکې يو احتمال يې ورکړ. نو که اتلس مياشتې وروسته وتل پيلوي، ښه خبره ده چې بيا به د نورو عسکرو راتګ ته هم اړتيا نه وي.

متوکل ددغه مخدوشيت په اړه زياتوي، چې يو لوري ته د افغانستان د معضلې حل غواړي، بل لورته د ناسمو معلوماتو په اساس ددې حالت دوام غواړي چې هر څه په زور وګټي. هغه که په بهر کې دي يا داخل کې، خو ددغه دوه تمايلاتو ترمنځ ټکر دی.

د متوکل په خبره، دا ديرش زره عسکر ددې لپاره نه راليږي چې جګړه يو مخيزه په زور وګټي يا، طالبان ټول له منځه يوسي، ښايي دوی دا غلطه مشوره له ځينو افغانانو اخستې وي، دی زياتوي، پنځه کاله وړاندې امريکايان تر اوس ډير قوي وو، دوی ولې هغه وخت سوله نه کوله؟ که قوت د سولې لپاره عامل وي، ولې يې پنځه کاله پخوا نه کوله. په اتو کلونو چې سوله رانغلله، په اتلسو مياشتو کې نشي راتلای، يوازې په اړوي کې به جګړه لمبې اخلي او په ژمي کې به لږ څه سړه غونډې وي، لکه دا څو کاله چې جريان لري.

روان حالت دا جاج ورکوي چې که امريکايي سرتيري پاتې هم شي، په سختو ستونزو کې به ښکيل وي، که څه هم دا ځل بيا د ناټو غړو منلې چې اووه زره نور سرتيري به ليږي خو دغه سرتيري يې ډير د زړه په زور منلي دي. که جګړه داسې ګونګه وي لکه اوس چې د هلمند او جنوب په غرونو کې پرمخ ځي، څه موده وروسته به ووينو چې ډير د ناټو غړي هيوادونه به له امريکا خپله لاره بيله کړي، دغه بيلتون ښايي عملا په دوه زره يوولسم کال کې د ځينو هيوادونو له لوري پيل شي. په هغه صورت کې ښايي طالبانو هم عملا د ځينو هيوادونو پر وړاندې داسې يو موقف خپل کړی وي چې تر ډيره ورسره خوږې اړيکې وپالي او له مالي يا نظامي اړخه به تر دې نور هم پياوړي شوي وي. امريکا به هم تنها شوې وي، داسې به تنها شوې وي چې حتی د خپل امريکايي ولس ملاتړ به يې هم له صفر سره ضرب وي، نو دا جنګيدل به ډير د غريبۍ جنګيدل وي او ښايي هغه وخت د امريکا ماتې حتمي شي، که نن په دغه ستراتيژۍ کې د امريکا ولس ته فريب ورکول کيږي خو هغه وخت به دوی په دې لاره پسې ګرځي چې په کومه ووزي. او دا به د ځينو شنونکو په اند، له غرب او اروپا بهر، د ناټو ځواکونو لومړۍ شرمنده ګي وي چې په افغانستان کې يې پر مخ درانده څپيړه وخوړه، هغه هيواد چې ډير به يې تر دوی وړاندې ددوی په سرنوشت اخته کړي وي.

حملات هوایی امریکا بر مناطق قبایلی و سیاست دوگانهٔ پاکستان

تهیهٔ و ترتیب: طارق احمد

پاکستان در زمینهٔ حملات هوایی امریکا، بازی دوگانه یی را شروع کرده است.

طیاره های بدون سرنشین گفته می شود، از پایگاه داخل پاکستان که به وسیلهٔ اردوی این کشور از آن محافظت می شود، پرواز می کنند. بنابراین، مدت مدیدی است که پاکستانی ها بازی دوگانه را در پیش گرفته اند و به امریکاییان می گویند که شما با این حملات، تمامیت ارضی ما را نقض می کنید، اما حقیقت این است که آنها تمامیت ارضی را نقض نمی کنند، بلکه با پاکستانی ها همکاری می کنند.

روزنامه های پیشتاز در پاکستان این حملات را، دلیل تلقی امریکا به عنوان دشمن شماره یک در پاکستان می دانند. اما به باور کارشناسان، مرکز چالش این است که دولت پاکستان در حال بازی دوگانه است و البته همزمان امریکاییان در حال دستاورد کمتری با این حملات هستند. گفته می شود، بیش از ۲۰ رهبر شبه نظامیان در آن کشته شده اند، اما درعین حال، این حملات موجب خشم گسترده شده است. این مسأله ممکن است موجب شود، اگرچه شما رهبران را از بین می برید، بر هواداران آنها بیافزاید و دستیابی به پیروزی را طولانی تر کنید.

در همین حال، از دیدگاه دولت امریکا، این عملیات مرگبار است که در آن ۲۰ تن از رهبران ارشد از جمله طراح ترور بینظیر بوتو کشته شده اند. نکتهٔ مهم این است که این حملات، به شیوه یی اجرا می شود که هیچ امریکایی آسیب نمی بیند. هیچ پیلوت و عسکر امریکایی در منطقه نیست. درصورتی که نیروهای امریکایی به منطقه فرستاده می شدند، تلفات بیشتر می شد. البته این حملات، دستاورد کوتاه مدت دارند و ممکن است، منجر به نابودی این سازمان نشود. امریکا رهبر طالبان را در پاکستان برمی دارد، اما همین گروه، چند هفته بعد در مقر نظامی این کشور حملات تروریستی بی سابقه را انجام می دهد.

استفاده از طیاره های بدون سرنشین در زمینهٔ نظامی فقط به امریکا و پاکستان مربوط نمی شود. اکنون ۴۴ کشور در جهان در حال ساخت، خرید و استفاده از این تکنالوژی نظامی هستند. این کشورها، شامل امریکا، روسیه، چین، ایران و امارات متحدهٔ عربی و پاکستان می شود. این آغاز انقلاب جنگی است.

پاکستان نیز خواستار خرید این تکنالوژی نظامی است، اما این کشور، چندین شرکت در زمینهٔ ساخت این طیاره ها دارد. این صنعت جهانی است و فقط به زمینهٔ نظامی

ص۳

اراده ورځپانه يوازې د سرليکنې ننګه کوي، نورې ليکنې د ليکوال خپل نظر دی، ورځپانه يې مسووليت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
گزارشگر: امان الله "ایمان" ۰۷۷۸۸۷۷۷۲۵
دیزاین : انجنیر محمدجمیل "امیری"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۶
ایمیل: erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com